Australian Government
Australian Taxation Office

# د خپل مالیاتي اظهارلیک ترسره کولو لپاره څنګه چمتو شئ

ستاسي د مالیاتي اظهارلیک ډکول په 3 مرحلو کې کیږي: راټولول، چمتو کول او سپارل.

## . راټولول

هغه معلومات راټول کړئ چې تاسي ورته اړتیا لرئ.

لاندي ورکړل شوي چیک لستونه تعقیب کړئ ترڅو ډاډ ولرئ چې تاسي خپل مالیاتي اظهارلیک کې صحیح معلومات ورکړي.

تاسي د عایداتي کال لپاره د 1 جولای څخه تر 30 جون پوري معلوماتو ته اړتیا لرئ.

## 2. چمتو کول

پریکړه وکړئ چې تاسي څنګه خپل مالیاتي اظهارلیک چمتو کوئ.

که تاسي پخپله خپل مالیاتي اظهارلیک ډکوئ نو تاسي کولی شئ آنلاین د myTax په کارولو سره (په انګلسي کې) یا د کاغذي مالیاتي اظهارلیک (په انګلسي کې) په کارولو سره وسپارئ.

د myTax کارولو لپاره تاسي خپل د myGov کاروونکي آي.ډي او پاسورډ ته اړتیا لرئ. که تاسي د myGov حساب نلرئ، تاسي کولی شئ یوځلي جوړ کړئ او په my.gov.au کې یې د ATO سره ( په انګلسي کې) لنک کړئ.

که تاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو لپاره د مالیاتو راجستر اجنټ څخه کار اخلئ نو مهرباني وکړئ د هغوی سره غږېدو لپاره ملاقات واخلئ.

## 3. سپارل

خپل مالیاتي اظهارلیک په ټاکلي نېټه وسپارئ.

که تاسي پخپله خپل مالیاتي اظهارلیک کاروئ مخته وړئ نو اړ یي چي هرکال یي تر اکتوبر 31 نېټي پورې وسپارئ.

که د مالیاتو راجستر اجنټ تاسي سره مرسته کوي، تاسي اړ یي د هغوی سره د اکتوبر 31 څخه مخکي کار پیل کړئ.

### زه کومو معلوماتو ته اړتیا لرم زما د مالیاتي اظهارلیک لپاره؟

تاسي اړتیا لرئ خپل:

- ◻ tax file number (TFN)
- ◻ ستاسي د بانکي حساب تفصیلات (BSB او د حساب لمبر) که چیری اړتیا وي چې تاسي ته پیسي بیرته تادیه شي
- ◻ ستاسي د عاید په اړه تفصیلات:
  - ◻ ستاسي د ټولو کارګومارونکو لخوا د عاید اظهارلیکونه یا ستاسي د myGovحساب کې
  - ◻ د حکومتي (لکه Centrelink) تادیاتو لنډیزونه
  - ◻ د پانګووني عاید (لکه بانکي اظهارلیکونو کې ټکټانه، د اسهامو او ونډو اظهارلیکونه)
  - ◻ بهرنی عاید (لکه د هېواد څخه دباندې کار یا پانګووني)
  - ◻ نور عاید (لکه نغدي دندې، کرایې املاک)
- ◻ ستاسي د کسرونو او لګښتونو په اړه تفصیلات:
  - ◻ د کار پورې تړلي لګښتونو لپاره ریکارډ (لکه رسیدونه، لاګ بوک، د کور څخه د کار شواهد)
  - ◻ د هغه ډالیو او خیراتي ورکړو رسیدونه چې تاسي په شرایطو برابر خیریه نهادونو او نورو سازمانونو ته ورکړي دي
- ◻ د مېرمن (متاهل یا دي فکتو) تفصیلات پشمول د هغوی د مالیاتو په شرایطو برابر عاید.

DE-20789-3-ENG

راجستر شوي مالياتي اجنټان یوازیني خلک دي چې اجازه لري ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو لپاره فیس واخلي. تاسي کولی شئ وګورئ چې آیا ستاسي مالیاتي اجنټ په tpb.gov.au (په انګلسي کې) کې راجستر دی.

## د سپارلو لپاره غوره وخت کوم دی؟

کارګومارونکي، بانکونه او نورې سوداګرۍ مورږ ته د هغه عاید په اړه تفصیلات راکوي کوم چې هغوی مالیه ورکونکو ته تادیه کوي. که تاسي د جولایي اخر پورې انتظار وکړئ، مورږ دا تفصیلات ستاسي مالیاتي اظهارلیک کې ستاسي لپاره شاملوو. دا ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارل چټک او اسانه کوي.

که تاسي پخپله خپل مالیاتي اظهارلیک سپارئ، تاسي د جولای 1 څخه تر اکتوبر 31 پورې د سپارلو لپاره وخت لرئ.

## د ریکارډ په ښه بڼه ساتل د مالیاتي اظهارلیک کار اسانوي

د هر عایداتي کال له پیل څخه د ریکارډ ساتل به ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو کار اسانه کړي. د ټولو کسرونو لپاره چې تاسي یې غواړئ خپل د معاشاتو رسیدونه او کاغذونه وساتئ. عموماً کار پورې تړلي لګښتونو لپاره د کسر غوښتنه کولو لپاره (یوازې) بانکي اظهارلیک کافي شواهد ندي.

خپل ریکارډ په یوه خوندي ځای کې وساتئ. د myDeductions وسیله په ATO ایپ کې تاسي سره مرسته کولی شي. په ato.gov.au/app کې (په انګلسي کې) نور معلومات ترلاسه کړئ.

## مرسته د کوم ځای څخه ترلاسه کړئ

د نورو معلوماتو لپاره، د ATO وېب پاڼې ته په ato.gov.au/TaxTimeResources (په انګلسي کې) ورشئ.

تاسي همدارنګه د مرستې لپاره راجستر شوي مالیاتي اجنټ سره هم غږېدلی شئ.

**خبرتیا:** دا معلومات یوازې عمومي لنډیز دی او په 2024 مارچ 26 کې تازه شوي دي.

تاسي کولی شئ په آزادانه ډول دا مواد کاپي کړئ، سمون ورکړئ، اصلاح یې کړئ، ولیږدوئ او توزیع یې کړئ (مګر پداسي کومه طریقه نه چې سپارښتنه کوي یا ښئ چې ATO یا Commonwealth تاسي یا ستاسي کوم خدمتونه یا محصولات تاییدوي).